**بسم الله الرحمن الرحيم**

**(ژباړه)**

## مفاهيم بدل شوي او افکار ګډوډ شوي دي!

له انس بن مالک رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«ما من مسلم يغرس غرسا أو يزرع زرعا فيأكل منه طير أو إنسان أو بهيمة، إلا كان له به صدقة»**

**ژباړه:** *هر کله چې يو مسلمان نيالګی کېږدي يا يو شی کښت کړي او الوتونکی، انسان او يا څاروی ورڅخه يو څه وخوري، دغه کار (د محصول د څښتن لپاره) صدقه حسابېږي.*

کله چې يو مسلمان د الله سبحانه وتعالی د رضايت او خوښۍ لپاره نېک عمل ترسره کړي او مېوه يې په دنيا او اخرت کې ترلاسه کړي، نو په زړه کې يې شور او ولولې راټوکېږي. هغه وخت نوموړی د ارامۍ او ډاډ احساس کوي او دغه نېک کار او ارامي بيانوي، ترڅو نور کسان هم د هغه ترسره کولو ته وهڅوي او نور خلک هم هغه څه وڅکي چې ده څکلي دي. د انسان روحيه په همدې توګه پياوړې کېږي او په دغه کار سره د ژوند واقعيت احساسولی شو. انسان د يو شي په ښندلو او ورکولو سره ارامه کېږي، نه د يو شي په ترلاسه کولو سره. د يو شي په ښندلو او له نورو کسانو سره په مرسته کولو ارامي ترلاسه کېږي او برعکس بخل او ځان‌غوښتنه د ستړيا او ناارامۍ لامل کېږي.

مفاهيم سرچپه شوي او افکار بدل شوي دي؛ انسان د غرايزو او نفساني غوښتنو لوري ته مخه کړې، چې هېڅ حد او اندازه نه لري. انسان د دنيوي حرص او ګټې د جاهلي کشمکش له امله، د ابولهب او ابوجهل جاهليت او د داړونکو ځنګل ته ورګرځېدلی دی، ترڅو بې‌عقلي او لوده‌ګي ارزښت پيدا کړي او د حيواني غريزو اواز د پوهاوي او درک تر اواز لوړ شي. په دغه حالت کې ښېګڼې او بدۍ نه محاسبه کېږي. عملونه نور د اخرت په تله نه تلل کېږي او صدقه خپل ارزښت له لاسه ورکوي. له هغو کسانو پرته چې الله سبحانه وتعالی پرې رحم کړی دی، د نورو ټولو انسانانو وضعيت همداسې دی.

چېرې يې اې د مسلمانانو خليفه! چې يو ځل بيا عدالت راوګرځوې او د اسلام مفاهيم بېرته را ژوندي کړې؟ چېرې يې اې عمر بن عبدالعزيزه! چې خپلو واليانو ته ووايې: د غرونو پر څوکو غنم وشيندئ چې هېڅ مرغه ونه وايي چې په اسلامي خاورو کې وږی دی...؟

اې ربه! د نبوت پر منهج خلافت ژر راوله، چې په واسطه يې د مسلمانانو ناوړه حالت پای ته ورسېږي او مصيبتونه ورڅخه لرې شي. اې ربه! په خپل کريم نور سره ځمکه روښانه کړه! اللهم آمين آمين!

**ژباړه: بهير «ويار»**